# د افغانستان له ملکي وګړو سره د مرستې پروګرام (ACAP III)

میاشتنی رپوټ | سپټامبر 2017

## تولکتنه:

د افغانستان په شخړو کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه د سپټامبر میاشتې په اوږدو کې راولوېده. د ملکي وګړو خوندیتوب او عدالت غوښتنی ګروپ (CPAG) په حواله، په دغې میاشت کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله د تېرو میاشتو په پرتله دوه برابره لږ وه. په دغې میاشت کې، د ښځو او ماشومانو په ګډون، ۱۰۱ ملکي وګړي ووژل شول او ۱۴۰ نور ټپیان شول.[1]

**د دغې میاشتې په اوږدو کې،**

- د سپټامبر په اوه ویشتمه نېټه په کابل کې د حامد کرزي نړیوال هوايي ډګر د توغندیو تر برید لاندې راغی چې په غبرګون کې یې نړیوالو ځواکونو د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره یو هوایي برید تر سره کړ چې د رپوټونو له مخې د شپږ تنو ملکي وګړو د ټپي توب لامل وګرځېد.
- د سپټامبر په نهه ویشتمه نېټه په کابل کې یو مسجد ته څېرمه په یوه چاودنه کې لږ تر لږه ۶ ملکي وګړي مړه او ۲۷ نور ټپیان شول. د ACAP III پروژې ارزونې بشپړې شوی او قربانیانو ته د سمدستي مرستو کڅوړې وویشل شوې.

## ستونزې:

- د ACAP III له قربانیانو سره د مرستې په سرچینو کې د کمښت د رامینځته کېدو له امله پدې میاشت کې د سمدستي مرستو د کڅوړو په وېش کې کمښت راغی او یواځې تر ټولو ډېر زیانمنونکي وګړي یې تر پوښښ لاندې راغلل.
- د ACAP III پروژه اوس مهال د بشرپاله نړیوالو بسپنه ورکوونکو څخه د مالي مرستو د ترلاسه کولو د دوام په هڅه کې ده ترڅو د شخړو د قربانیانو سمدستي اړتیاوو ته ځواب وویل شي.

**دACAP III پروژه د شمېرو په هینداره کې - سپټامبر 2017**

**د ACAP III پلټنې**
99 پېښې*
108 مړه
156 ټپیان

**سمدستي مرستې**
21 د مرستو د وېش پروګرامونه
163 د سمدستي مرستو کڅوړې
1410 ګټه اخیستونکي

**رواني – ټولنیزه سلامشوره**
461 نوېو کسانو نوم لیکه کړې ده
1001 ګټه اخیستونکي رخصت شول

**فزیکی بیارغونه**
185 نویو کسانو نوم لیکه کړې ده
341 کسان رخصت شول

**د عاید تولید**
27 د عاید تولیدوونکي کڅوړې
192 ګټه اخیستونکي

* پلټل شوې پېښې (یوځه) د سپټامبر میاشتې او تر هغې د پخوا میاشتو دي.

*د هغو قربانیانو شمېر چې د سمدستي مرستو کڅوړې یې ترلاسه کړې دي – د نومبر 2015 څخه تر سپټامبر 2017 پورې*




[1] د ملکی وګړو خوندیتوب او عدالت غوښتنی ګروپ. (۲۰۱۷). په سپټامبر میاشت کی د ملکی وګړو د مرګ ژوبلې کمښت [مطبوعاتی اعلامیه].

د اړیکو لپاره: Nihal Samarasinghe, Project Manager: NihalS@unops.org

مونږ تعقیب کړی: